مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سرلوڅ مرادزی

۲۰۲۳ / ۰۵ / ۲۴

## ښکلا

ستا د حسن داسې نام دی
چې شهرت يې خاص وعام دی
په يو ګل کې تعريف نه شي
ټول بدن دې ګل اندام دی
غېږه غېږه دې زندان دی
پروت بندي پکې بدنام دی
لار د تېښتې ترينه نشته
ول د زلفو دې يو دام دی
هر نظر کې دې نېشه ده
هر کاته دې ګوټ د جام دی
هر بانه دې په کټل کې
غشي وتی له نيام دی
ورين تندي کې دې سحر دی
زلفو شپول کې دې ماښام دی
د قامت صفت دې نه شي
قد قامت ته دې سلام دی
روح ازاد ستا په دربار کې
د زنګې بندي غلام دی
په يو تار سره پېيلي
ملغلرې دې کلام دی
زخمي روح ته يو تسل دی
د ټپي زړه التيام دی
رسېدا پرې شي کمال ته
لکه وحي يا الهام دی
يو راښکون، يوه جذبه ده
هر ادا کې دې پيغام دی
يو رنګين تابلو د عشق يې
يو ښايست دې نا تمام دی
ستا په مينه کې هستي ده
ستا په مينه کې ارام دی
ته د ژوند اصلي مفهوم يې


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

پورته ځکه دې مقام دی
سخاوت دې سمندر دی
خونړی دې انتقام دی
حیف، د حسن عمر کم دی
په شروع کې یې انجام دی
زه ښکلا ستایم د ښکلو
خلک وایي چې سرسام دی


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ